# د ځلوريځي (رباعي) د بحر تجزيه

## An Analysis Of Rubai(Quatrain) In Pashto Poetry

حافظ رحمت نيازي*

**Abstract:**

In this paper the scholar has carried out technical analysis of the specific poetic genre of Pashto called "Rubai". Rubai is derived from Arabic word "Rubai" that mean four. In literature it is the four poetic lines written in peculiar sequence. The author has analyzed that, various Pashtun classic poets who have used the titles of rubbai but that do not fit in the format of rubbai. He has used specimen and has carried out a comparative analysis of the original genre and other poetic experiments assumed as Rubbai.

د شعر ويلو خوږ صنف ځلوريځه د خپل ارتقائي سفر په لحاظ له فارسي ژبې څخه پښتو ته په سوونو کلونه مخکښې راغلې ده او لکه د شعر ليکلو دپاره چې د غزل قالب ځومره موزون او خوندور دی همدغسې له غزل وروسته تر ټولو شعري اصنافو د ځلوريځې قالب د شعر ليکلو دپاره ډېر جالب او موزون دی. که څه هم د شعر پوهانو له غزل وروسته د ځلوريځې پر ځای خوندور صنف مثنوي يا قصيده ياد کړی دی خو قصيده او مثنوي د بحر او وزن په لحاظ بېرته له غزل سره په ډېرو فني قدرونو کښې اشتراك لري، مګر ځلوريځه هغه يوازينی شعري صنف دی چې د بحر او سېلاب له لحاظه له غزل څخه ډېر توپير لري، جلا وزن او بحر لري که بيا هم په دغه بحر کښې غزل وليکل شي نو پوهان وايي چې دغه غزل د رباعي په بحر کښې ليکل شوې ده، د دې برعکس د مثنوي او قصيدې د بحر په اړه شعر پوهانو کله هم دا نۀ دي ويلي چې دا رباعي د مثنوي، قصيدې يا غزل په بحر کښې ليکل شوې ده. بلکې قصيده يا مثنوي د غزل په بحر کښې ليکل کيږي. خو ځلوريځه د بحر له کبله هغه ځانګړی صنف دی چې کله هم د بل شعري صنف په بحر کښې نۀ ليکل کيږي. دغسې په تعريفي لحاظ مثنوي قصيده او غزل يو له بله څۀ لږ غوندې توپير لري. خو ځلوريځه هغه مستقل شعري صنف دی چې د هيئت له لحاظه يې ارتقائي سفر له زرګونو کلونو راهيسې تر ننه پورې را روان دی او اميد دی چې تر څو پورې شعر

* په پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه کښې کمپوزر دی.

ليکل کيږي دغه له خونده ډك صنف به مخ په وړاندې خپل سفر جاري ساتي. د مثنوي او قصيدې د خوندور صنف په اړه مونږ وينو چې:

شاعری کے جو مشہور اقسام ہیں یعنی غزل، قصیدہ، مثنوی مذکورہ بالا اصول کے لحاظ سے ان کی نوعیت یہ ہے کہ قصیدہ اور غزل جذباتی شاعری میں داخل ہیں اور مثنوی مظاہر قدرت کی مصوری ہے لیکن ہمارے شعراء نے ان میں سے کسی کو اپنے حدود میں نہیں محدود رکھا. غزل میں بجائے اس کے کہ جذبات محبت کا اظہار کیا جاتا، ہر قسم کے فلسفیانہ اور تخئیلی مضامین داخل کر دیے، قصیدے ہمہ تن تخئیل بن گئے، مثنوی نے واقعہ نگاری کی حد سے متجاوز ہو کر ہر قسم کی شاعری پر تصرف کر لیا".(1)

رودکي د فارسي لومړی شاعر دی چې د ځلوريځې ابتدا ئې کړې ده او لکه څنګه چې [شاعرانو] د غزل، مثنوي او قصيدې په بحرونو کښې نوې نوې تجربې کړې دي دغسې يې د ځلوريځې بنياد هم د خواږه بحر له کبله ايښی دی خو علامه شبلي نعماني ئې د غزل، مثنوي او قصيدې په اړه ذکر کړی دی د ځلوريځې په اړه يې هيڅ هم نۀ دي وئيلي دی وائي:

"معلوم ہوتا ہے کہ رودکی نے تمام مشہور بحروں میں مثنوی گوئی کی بنیاد ڈال دی تھی شاہنامہ کے وزن میں بھی اس کی ایک مثنوی ہے اس کا ایک شعر ہے:

نکو گفت مزدور با آن خدیش :: مکن بد بکس گر نخواہی بہ خویش "(2).

رودکي د شعري اصنافو د ايجاد په اړه ډېر لوئ نوم دی خو څنګه چې هغۀ د مثنوي او قصيدې په بحرونو کښې طبع ازمائي کړې ده دغسې ئې لومړی وار د ځلوريځې بحر هم د عروضو په لحاظ په مشهورو اوزانو کښې له تقطيع کولو وروسته د بحر هزج قالب ته اچولی دی او وروسې ئې د دغه بحر ځلرويشت اوزان نور هم اختراع او ايجاد کړي دي. نو کله چې ئې د امير يعقوب* د زوئ له خولې د غلطان غلطان الخ يوه مصرعه واورېده نو وروسې ئې دويمه مصرعه هم جوړه کړه چې يو

*امير يعقوب بن ليث صفار د تذکرۀ خزانۀ عامره د مؤلف له قول سره سم په 251 هجري کښې يې ډېر شهرت موندلی ؤ. د يوه ضعيف روايت مطابق په اسلامي عهد کښې د فارسي نظم موجد هم دی ؤ. (مولوی محمد نجم الغنی، بحر الفصاحت، مقبول اکیڈمی، لاہور، 1988ء، ص272.)

بيت شو نو ئې بيا يو بيت بل ورسره جوړ کړ او دغه شعري صنف په دوه بيتي باندې مشهور شو چې کله ئې څلور مصرعې شوې نو په باقاعده توګه د رباعي نوم ورکړل شو چې په پښتو شعري اصنافو کښې ورته څلوريځه وائي. لومړۍ وار چې رودکي کومه مصرعه د امير يعقوب د زوئ له خولې اوريدلې وه د هغې په اړه داسې وئيل کيږي:

"عرب میں رباعی کا دستور نہ تھا شعراء عجم نے یہ بحر ہزج میں سے نکالی ہے معیار البلاغت میں لکھا ہے کہ موجد اس کا رودکی ہے، ایک روز راہ میں چلا جاتا تھا اثنائے راہ میں امیر یعقوب بن لیث صفا کا بیٹا یازدہ سالہ لڑکوں میں جوز بازی کر رہا تھا یعنی چند جوز کو گوچی میں ڈالنا چاہتا تھا ایک بار چھ جوز گوچی میں جا پڑے اور ایک باقی رہا تھا وہ بھی لڑک کر جا پڑا تب وہ خوش ہو کر کہنے لگا "غلطان غلطان ہمی رود تا بن گو" استاد رودکی کو یہ کلمات فصیح بہت اچھے معلوم ہوئے اور غور کیا تو علم عروض میں موزون پایا پھر اس سے چوبیس وزن اختراع کیے "(3).

د پښتو کلاسيك شاعرانو په دغه بحر کښې رباعيات ليکلي دي او دغه لړۍ تر نن ورځې پورې را روانه ده په اوسني وخت کښې هم شاعران څلوريځې ليکي. خو د کلاسيك شاعرانو په څلوريځو کښې زياته توجه خيال ته ورکړل شوې ده چې خيال به يو په کښې وي وزن او سيلاب ته ئې ډيره توجه نۀ ده ورکړې او ډيرو شاعرانو په دوه يا درې ډوله وزنونو کښې د سيلابونو په لحاظ څلوريځې ليکلې دي. ښاغلی درويش دراني د کلاسيك شاعرانو په باره کښې د رباعي د بحر د استعمال په اړه ليکي:

"د پنځم بحر تر ټولو وړه مصرعه له پينځو سيلابونو څخه جوړه ده او په دغه څلورم ښاخ کښې همدغسې پينځۀ سيلابيزې مصرعې دوې يوه په بله پسې کيږي او د لسو سيلابونو يوه غبرګه مصرعه ترې جوړيږي، څلورم او نهم د دغې غبرګې مصرعې دوه لاژمي درانۀ سيلابونه دي. د دې بحر يوه ځانګړتيا دا ده چې لکه څنګه چې فارسي يا ځنې نورې ژبې د رباعي (څلوريځې) دپاره ځانګړي بحرونه لري. دغه رنګه زمونږ کلاسيکي شاعرانو په پښتو کښې دغه بحر د رباعي دپاره ټاکلی دی. دغه بحر که څۀ هم په غزل کښې لږ کارول کيږي خو داسې غزلې مونږ په هر حال لرو چې په دغه بحر کښې دي....

په دغه بحر کښې کله کله شاعران تيروزي. دې ښاخ ته د څلورم بحر څلورم ښاخ ډير ور نزدې دی. زمونږ له لويو استاذانو څخه هم کله کله دغه دوه بحرونه سره ګډ

شـوي دي. د دغـه ښـاخ د غبرګـې مصـرعې لـه دوو وړو وړو مصـرعو څخـه يـې يـوه پـه ثلورم او بله پـه پيـنځم بحـر کښـې ليکلـې وي. داسـې دا مصـرعه د لسـو پـر ځـای دولـس (7+5) يـا يـوولس سـېلابه شـي. زمـونږ د رباعيـانو پـه پنګـه کښـې دغسـې تېروتنـې ډېـرې دي. هسـې پخـوا خـو دغـه تـش د سـېلاب حسـاب لا هـم نـۀ ؤ. د هغـه وخـت شـاعرانو هرڅـۀ د خپـل مـوزون طبيعـت پـه زور ليکـل او مـوزون طبيعـت بـه کلـه کلـه د يـوۀ پـر ځـای تـر دوو سـېلابونو ګـام واړاوۀ. څکـه نـو مـونږ ځـای ځـای د سـېلابونو لـږ غونـدې ګـډوډي وخـت ناوخته وينو"(4).

خـو څنـې اوسـني شـاعران چـې د څلـوريځې پـه بحـر خبـر دي هغـوئ د سـېلاب لـه پابنـدي سـره سـم پـه يـوه وزن کښـې څلـوريځې ليکـي چـې همدغـه وزن د څلـوريځې د تعريف دپاره جامع او مانع دی.

کـه څـۀ هـم د څلـوريځې لـومړی بنيـاد پـه فارسـي کښـې کښـېښـول شـوي وي خـو د زمـانې لـه مـرور سره د څلوريځې د خـواږۀ بحـر او وزن جامـه شـاعرانو خپلـو شـعرونو تـه ورکـړې ده. پـه لـومړي سـر کښـې خـو عربـو شـاعرانو څلـوريځې نـۀ دي ليکلـې خـو وروسـتيو شـاعرانو ډېـرې زيـاتې څلـوربځې ليکلـې دي. او دغسـې دا د څلـوريځې د ليکلـو دود تـر اوسـه پـورې روان دی او پـه اوسـني وخـت کښـې د پښـتو ژبـې څنو شـاعرانو دومـره ډېـرې څلـوريځې ليکلـي دي چـې د کيميـت پـه لحـاظ يـې لـه خوشـحال خـان ختـېك څخـه هـم ميـدان وړی دی. دا چـې د څلـوريځې د ليکلـو مخصـوص وخـت يـادېږي چـې يـو وخـت بـه ډېـرې زيـاتې څلـوربځې ليکـل کېـدې دا خبـره د منلـو وړ نـۀ ده چـې د يـو شـعري صنف دپاره دي يو مخصوص وخت وټاکل شي، لکه محمود اياز چې وايي:

"هغـه ورځ لـرې نـۀ ده چـې دغـه زلمـی شـاعر بـه د پښـتو ژبـې د ښـو او معيـاري شـاعرانو پـر څنـګ پـه هسـك سر ولاړ وي. ولـې چـې غـزل يـې تـر نظـم او نظـم يـې تـر غـزل ښـۀ دی او د دۀ د څلـوريځې د تجربـې پـه اړه زۀ دا وخـت هـيڅ نـۀ شـم ويلـی ولـې چـې پـه کومـه زمانـه کښـې چـې د څلـوريځې دور ؤ. هغـه وخـت د څلـوريځې معيـار هـم لـه اسـمانه سـره خبـرې کـولې. زۀ خـو دومـره ويلـی شـم چـې يـو سـوداګر چـې د هينـدارو لـه بـازاره سـره عقيدت لري هغه به د هيندارو په قيمت او بها ښۀ خبر وي"(5).

د شـعر ملکـه هـر وخـت شـاعر تـه راځـي او د شـعر د ليکلـو دپـاره يـې صـنف معلـوم نـۀ وي چـې شـاعر دي خامخـا پـه پلانکـي صـنف کښـې شـعر ليکـي. دا خبـره سـمه ده چـې د

ځنو شاعرانو طبع غزل ته ورته وي او د ځنو طبع نظم ته ورته وي او د ځنو طبع ثلوريځې ته ورته وي. که دا له یوه مخصوص وخت سره خاص کړو نو د ستر خوشحال خان، د نورو شاعرانو او د پیاوړي شاعر محمد صدیق پسرلي بشپړه د ثلوريځو ټولګه او ورسره زمونږ د عصر د مشر شاعر برملا خان برمول کتاب چې په کښې ئې په زرګونو ثلوريځې ليکلې دي او چاپ شوې هم دي او د رحمت زلمي او بارکوال میاخېل د ثلوريځو ګډې شعري ټولګې ته به ایا څوك د ثلوريځو په نظر نهٔ ګوري؟ له دې پرته د ډېرو شاعرانو په شعري ټولګو کښې د نمونې دپاره ثلوريځې ليکل شوې دي. برملا خان برمول خو د کېمیت په لحاظ تر خوشحال خان خټك هم زیاتې ثلوريځې ليکلې دي چې د اوسني دور شاعر او ليکوال دی. نو دغه ثلوريځې خو په هغه دور کښې نهٔ دي ليکل شوې د کوم دور خبره چې محمود ایاز کوي. نو آیا دغو ثلوريځو ته به څهٔ وایو؟.

دا چې ثلوريځې ته د شعر پوهانو د ترانې او قول نوم هم ورکړی دی، ترانه ځکه ورته وائي چې په دغه بحر کښې غنائیت او موسیقیت ډېر زیات وي. او د موسیقي شوقینو په دغه وزنو باندې بېلا بېل راګونه هم جوړ کړي دي. په دغه اړه وئیل کیږي:

"شمس الدین محمد بن قیس نے المعجم میں بیان کیا ہے کہ ترانہ اسکو اس لیے کہتے ہیں کہ ارباب موسیقی نے اس وزن پر اچھے اچھے راگ بنائے ہیں عربی میں ایسے اشعار کو قول بولتے ہیں اور کسی خاص راگ وغیرہ کے لحاظ کے بغیر صرف اشعار کے لحاظ سے دوبیتی کہتے ہیں. کیونکہ اس میں دوبیت سے زیادہ نہیں اور عرب مستعریہ رباعے بولتے ہیں کیونکہ یہ بحر ھزج میں ہے اور وہ اشعار عرب میں مربع الاجزا ہے. اگلے زمانے کے شعراء عرب نے شعر نہ کہے متاخرین عرب نے اسکی طرف خوب رغبت کی اور عربی میں اس کا بڑا رواج ہو گیا" (6).

زما په خيال د ثلوريځو له ذکر سره که اولسي ادب مشهور او خوندور صنف چغیان، انګۍ یا چې په ځنو قبیلو کښې د متلونو په نامه یادیږي چې په غیر شعوري توګه د ودونو په وخت ښځې د خپلو احساساتو او جذباتو اظهار په کښې کوي ذکر و نهٔ شي نو دا به له تحقیق سره زیاتی وي. ځکه چې چغیان هم د خپل مخصوص بحر او وزن له اعتباره له ثلوريځې سره یو رنګي لري او د ثلوريځې د بحر په باره کښې دا هم وئیل کیږي چې:

"دا چې د پښتو ځلوريځې پخواني وزن په کوم دليل د پښتو ځلوريځې خپل وزن دی او د لرغونتيا دپاره ئې څۀ شواهد وړاندې کېدی شي، بايد ووئېل شي چې دا د سهېلي پښتونخوا په اکثرو سيمو کښې د پښتنو مېرمنو له هغو ساندو او منظومو فريادونو څخه اخستل شوی دی چې د (چيغان، انګۍ او متلونه) په نومونو سره شهرت لري او ډېری وخت ئې ناوې په ودونو کښې له خپل پلار، ورور او اکا څخه د شکايت او يا هم د خسرګنۍ په اړه په ژړا ژړا کښې وائي:

دلته به د سيال صاحب له کتابه يوه انګۍ راوړم"(7).

له پورتنۍ حوالې اشارتاً معلومېږي چې د ځلوريځې بحر له چغيان، انګۍ يا متلونو اخستل شوی دی. خو دا نکته نوره هم څېړنې ته اړتيا لري او عين ممکنه ده چې ځلوريځې تر انګيو ړومبی وئيل شوې وي او د انګيو، چغيانو يا متلونو بحر دې له ځلوريځو اخستل شوی وي نۀ دا چې د ځلوريځې بحر له انګيو اخستل شوی وي او ليکوال چې دغه خبره کوي چې د ځلوريځې بحر له چغيانو اخستل شوی دی هيڅ حواله نۀ ورکوي. که ئې حواله ورکړې وائی کېدی شي زمونږ دغه تنده ئې را ماته کړې وای.

د چغيانو د لرغونتابۀ په اړه ښاغلی حبيب الله رفيع ليکي:

"د دې کتاب په انګيو کښې ما داسې ناري و نۀ موندلای شوې چې د زرهاوو کلونو د قدامت نښې دې ولري او يا دې داسې تاريخي پېښې په خپله لمن کښې ولري چې زرګونه کلونه پخوا را منځ ته شوې وي. البته د سل دوو سوو کالو تاريخي پېښې په کښې يادې شوې دي چې سيال صاحب څېړلې دي"(8).

په اوسني وخت کښې خو څنو شاعرانو په خپلو شعري مجموعو کښې قطعې هم د ځلوريځو په نامه ياده کړې دي کومې چې په اصل کښې ځلوريځې نۀ وي. د بېلګې په ډول د ارواښاد حافظ خان محمد په شاعري کښې قطعات يا شعري ټوټې دي چې د ځلوريځو نوم ورکړل شوی دی:

"دا خبــــر د خوشـــــحال خــــان مــــې ډېــــره خوښـــه
لـــــــــــوئ دريــــــــاب د معرفـــــــــــت او د حکمــــــــت

که فلك دي د زمري په خولۀ كښې وركړي
خبردار چې هلته پرې نۀږدې همت"(9)

زمونږ د عصر د پښتو ژبې دوه ستر شاعران يو ابو الخير ځلاند او دويم عبدالباري جهاني چې د عمر خيام ځلوريځې يې له فارسي څخه پښتو ته ژباړلې دي هم نوم يې د ځلوريځو وركړى دى خو بحر يې د ځلوريځې نۀ بلكې د غزل يا بل كوم صنف دى. ښاغلي ابوالخير ځلاند خو ځنې ځلوريځې داسې ژباړلې دي چې په هغه د قطعې تعريف صادق راځي. د مثال په ډول يې د دوۀ په اند دغه يوه يوه د خيام ځلوريځه او ورسره د هغې پښتو ژباړه ولولئ:

بنگر جهان، چو رخت بربستم هيچ
و زحاصل عمر چيست، در دستم هيچ
شمع طربم، دمى چو بنشستم هيچ
من جام جمم ولى چو بشكستم هيچ

ژباړه:

گوره څۀ مې كړله تول له دې جهانه
عمر ولاړ لاس كښې مې هيڅ نۀ راغلۀ جانه
بله شمع يم يا جامِ جم چې روغ يم
خو چې مړ شم يا مات ياد يم د هيچا نه"(10)

اې دل چو حقيقت جهان هست مجاز
چندين چې برى خوارى ازين رنج دراز
تن را بقضا سپار بادرد بساز

که این رفته قلم زبهر تو ناید باز

ژباړه: اې زړګیه! د دنیا اصل مجاز دی
ګلوې د دې دپاره زحمت ولي؟
په قضا باندې راضي په درد عادت شه
نه بدلیږي د ازل د کاتب کښلي (11)

لکه پورته چې ذکر وشو چې ښاغلي جهاني هم د عمر خیام څلوریځې پښتو ته ژباړلې دي. د رباعي د مخصوص قالب له پلوه چې ورته ګورو نو جهاني د څلوریځې خپل مخصوص بحر نه دی کارولی بلکې د غزل او نور شعري اصنافو په بحرونو کښې د عمر خیام څلوریځې ژباړلې دي. هم هغه مسئله د جهاني په ژباړه کښې ده کومه چې د ابو الخیر ځلاند په ژباړه کښې وه. خو عبدالقدیم پتیال یې د مبالغې تر حده ستاینه کړې ده. دی وایي:

"مونږ که چرې په مفصله توګه د ښاغلي جهاني پر شعري ژباړو څېړنه کوو نو د خیام د فارسي څلوریځو ژباړه به یې یو ډېر لوئ څپرکی وي. ښاغلي عبدالباري جهاني د دغو څلوریځو په ژباړه سره په پښتو ادب کښې د خمریه اشعارو په برخه کښې داسې درنه اضافه وکړه چې پښتو ژبه تراوسه نۀ وه ځنې برخمنه شوې. مونږ په پښتو کښې په تول پوره او د کیفیت په لحاظ بشپړه د خمریه اشعارو نمونه په لومړي ځل د زرغون خان نورزي (890هـ ق) شا و خوا په ساقي نامه کښې وینو چې په ډېر استادانه ډول یې پښتو ادب ته یوه بشپړه پښتو ساقي نامه وبخښله"(12).

په پورتني اقتباس کښې ښاغلي پتیال د جهاني د څلوریځو د کیفیت ذکر کړی دی او د کیفیت په اړه یې بحث نۀ دی کړی. د خیام څلوریځې پښتو ته ژباړل شوې دي خو له لویه سره جهاني ټولې څلوریځې د پښتو د څلوریځې په بحر کښې نۀ دي ژباړلې. څومره به ښۀ وائ چې د څلوریځې د بحر خیال ساتل شوی وای نو به یې خوند یو په دوه شوی وای. د څلوریځې بحر د نورو اصنافو د بحر په نسبت ډېر خوږ

دی. زيات غنائيت او موسيقت لري. د جهاني له څلوريځو يوه د نمونې دپاره وړاندې کوو او د کيفيت له لحاظه يې ګورو چې کوم رنګ لري.

رباعي:

هشدار که روزگار شور انگيز ست
ايمن منشين که تيغ دوران تيز ست
درکام تو گر زمانه بو زينه نهد
زنهار فرومبر که زهر آميز ست

پښتو ژباړه:

هوښيار اوسه زماني ته چې له چمه ډك روزګار دی
يو ګړۍ چې غافل نۀ شې د وختونو تېغ آبدار دی
که زمان دي په نازونو خولۀ له شاتو کي دړ که
پام تر ستوني يې تېر نه کړې هوښيار اوسه زهر مار دی(13).

که څۀ هم د جهاني او ابو الخير ځلاند ژباړې د څلوريځې له بحره وتلې دي. خو څلوريځې دي او د څلوريځې تعريف وربانـدې صادق راځي. خو د بحر له کبله نيمګړتيا لري چې اندازه يې له پورتنيو څلوريځو کولای شو.
د پښتو له خوږ ژبي شاعر سيد خير محمد عارف ته مي يو څۀ وخت وړاندې ويلي وو چې عارف صاحب کاش! چې شاعري دي چاپ کړې واى چې ټوله شاعري مو ليدلې واى او څۀ خوند مو پرې اخستی واى خو د شاعري ميدان داسې سوړ دی او داسې ببخي کم د شاعري کتابونه ميدان ته راځي چې د سړي د شعر ويلو تنده پرې ما ته شي نو عارف صاحب راته وويل چې زۀ تراوسه پورې له خپلو شعرونو مطمئين نۀ يم او حال دا چې تر دغه وخته پورې د عارف صاحب د شعر ليکلو

ځلوېښت شا و خوا کلونه شوي وو. زمونږ د عصر ځوانان شاعران په ځلور یا پینځو میاشتو کښې یو یا دوه کتابه شاعري هم وکړي او بیا یې چاپ هم کړي او وروسته وربانديې خبر هم نهٔ وي چې دا لیکلي شعرونه مې د شعري اصنافو له رویه په کوم صنف کښې شمېرل کیږي. او بلې خوا ته د سریزې لیکونکی ورته دا مشوره نهٔ ورکوي چې دا شعرونه دي لیکلي په یوهٔ صنف کښې دي او نوم دي د بل صنف ورکړی دی. د بېلګې په توګه د بشرمل ناصر د شعري ټولګې په سریزه کښې لیکوال لیکي:

"البته د بشرمل ناصر د شعر په اړه زما دا خبرې په دې معنا نهٔ دي چې د دهٔ شعر اوس یوازې د خلګو د راویښولو او زمونږ د غمیزې بیانولو ته ځانګړی دی یا یې هنر ټول د فکر قرباني کړی دی"(14).

بل ځای لیکي: "په دې کتاب کښې ښکلې غزلونه، څلوریځې او په زړهٔ پورې نظمونه راغلي دي. چې په ټولو برخو کښې [شاعر] بریالی برېښي، بې له شکه د دې کتاب چاپ زمونږ پر اوسني شعر یوه ښکلې زیاتونه ده"(15).

د ښاغلي علم ګل سحر له دې خبرې سره اتفاق کول به بې ځایه وي چې د شاعر هنر ټول د فکر قربان کړی نهٔ دی. بلکې شاعر د شعري اصنافو خیال نهٔ دی ساتلی. دوه دوه شعرونه (بیتونه) یې لیکلي دي او نوم یې د څلوریځې ورکړی دی. په څلوریځه ځان پوه کول هم د شاعر هنر وي کوم چې بشرمل ناصر تر فکر قربان کړی دی. د نمونې دپاره د بشرمل ناصر څو څلورېځې د دهٔ په فکر وګورئ:

اې جنوني ژوندونه ونیسه د مینې ځولۍ
د سترګو تور څنګه و ما ته سرهٔ ګلونه راوړو
هینداره زړهٔ کښې زر ټټاکې د وخت وټوکېدې
پښتون ارمان مې پښتونخوا ته سرهٔ ګلونه راوړو

بل ځای وایي:

د خــــداى پـــه ښـــکلي لاره چـــې ســـړى نـــهٔ ځـــي ســـړى نـــهٔ دى
دردمـــن غونـــدې خاکســـاره چـــې ســـړى نـــهٔ ځـــي ســـړى نـــهٔ دى

فرهـــاد غونـــدې شـــرطونه بـــه د مينـــې بانـــدې ږدي
پـــه يـــوۀ قـــدم تـــر يـــاره چـــې ســـړى نـــهٔ ځـــي ســـړى نـــهٔ دى"(16).

د ځلوريځې په خوږۀ او مترنم بحر کښې د پښتو اکثرو کلاسک شاعرانو طبع ازمائي کړې ده، خو د ځلوريځې بحر ځاى په ځاى په يوه نه يوه مصرعه کښې بدل شوى وي د هغه اصل وجه دا وي چې د مصرعو د سپلابونو فرق په کښې راغلى وي يعني د ځلوريځې هره مصرعه لس لس سپلابيز بحر لري خو په دوئ کښې اکثرو شاعرانو ځنې ځلوريځې په يوولس سپلابيز يا نهه سپلابيز بحر کښې ليکلې وي. په دغو کلاسک شاعرانو کښې له ستر خوشحال خان خټک را ونيسې بيا تر نن دوره پورې دا کمزوري يا تجربه را روانه ده.

زمونږ کلاسيك شاعرانو په دغه بحر کښې د سپلاب له کبله وخت ناوخته تېروتنې کړې دي. او دغه تېروتنې داسې نهٔ دي چې مسلسل په رباعياتو کښې را روانې دي بلکې د هر لوئ شاعر په رباعياتو کښې کله کله د منيځ د مصرعې سپلاب کم وي يا کله کله د منيځ د مصرعې سپلابونه پوره وي خو د دې نورو دريو مصروعو يو يو سپلاب يې کم وي يا يو سپلاب زيات وي. د نمونې دپاره يې د ډېرو کلاسيك شاعرانو د رباعياتو نمونې وړاندې کوو:

احمـــق چـــې و پوښـــتې خپـــل زړۀ زيـــان کـــا
چـــې ويـــل ګـــډ شـــي شـــان شـــان کـــا
هرڅـــهٔ پـــه زړۀ کښـــې څـــهٔ نېـــك و بـــد لـــري
هغـــه بـــه واړه درتـــه بيـــان کـــا(17)

کله نا کله له کاتب څخه غلطي وشي يو توری سم نۀ وليکي نو هلته د سېلابونو توپير مينځ ته راځي. خو د خوشحال خان خټک ځنې رباعيات په مختلفو کتابونو کښې په يو ډول راغلي دي. دغه پورتنۍ رباعي يې "د خوشحال رباعيات" نومي کتاب کښې چې پښتو ټولنې په کال 1349هـ ق کښې چاپ کړې دی. هلته هم دغسې ليکلې ده. دغسې د خوشحال خان خټک کليات چې زما په لاس راغلي دي هغه که سيد رسول رسا مرتب کړي وي يا دوست محمد خان کامل په دې ټولو کښې دغه رباعي او ځنې نورې رباعيانې د سېلابونو په توپير سره راغلې دي.

له خوشحال خان خټک پرته نورو کلاسيك شاعرانو هم دغسې تېروتنې کړې دي. د بېلگې دپاره د د خواجه محمد بنگښ او ورپسې د نورو شاعرانو رباعيات وگورئ.

"که بادشاه د گدا مېلمه شي
د گدا کور به گلزار همه شي
هيڅ کمی به د بادشاه و نۀ شي
پرې به ښه د گدا نامه شي

پسِ روي مې د دوس و نۀ کړه
سفر به څرنگ بې له رهبره شي
خواجه وائ کرم دي ډېر دی
زما له خپله شاميته ويره شي"(18)

د لاندينيو لويو شاعرانو د رباعياتو د سېلابونو د زياتوب او کمبوت دپاره که په هره رباعي جلا جلا خبرې کوو نو به مقاله ډېره اوږده شي، بس دومره ويل کافي دي چې په ځنو مصرعې کښې سېلاب کم وي او په ځنو کښې زيات وي. نور چې څوك لږ په شاعري پوهيږي هغه دغه د سېلاب کمبوت او زياتوب محسوسولی شي. لکه موشگاف عبدالحميد چې وايي:

"د خدای دپاره د دوست په روئ دی ؤ
د وفادارو ښکلو په خوئ دی ؤ
چې یو خل راشه تر ما حمیده
د رنځورانو په های و هوئ دی ؤ"(19)

خزان یې نشته هسې بهار لرم
زۀ یې بلبل یم ګل و ګلزار لرم
خبر له غیره لکه حنا نۀ شوم
رنګ په خاطر کښې د خپل نګار لرم"(20)

دا چې و تاته خبرې ثوك په خُلې كا
له زړۀ نۀ وایي هرګز تشې قیصې كا
زمانیو مې زړۀ شین په تش لباس كړ
هیڅ وینا په رښتیا نۀ قیصې پیسې كا

تورې زلفې چې په مخ باندې ولول كا
هزار زړونه د عشاقو مبدل كا
په شفقت یې بلاق پروت علاج یې نۀ شي
هر زمان په كور د زارو و آتش بل كا"(21)

معز الله مومند د نمونې دپاره ثو ثلوریځې لیکلي دي دي ټولې په یوه بحر کښې خو د ثلوریځې په بحر کښې نۀ دي د غزل په بحر کښې یې لیکلي دي یعنې د هغې غزلې بحر دی کومې غزلې چې په همدغه بحر کښې راځي. دی وایي:

راشـــــــه راشـــــــــه نڱـــــــــاره!
پــــــه دا کښـــــــلي مــــــخ بهــــــاره
یــــــم پــــــه تـــــا پســـــې بیمــــــاره
تــــــۀ لانــــــۀ یـــــــې پــــــروادار"(22)

دغســې د محمـد صـاحبزاده څلـوریځې هـم زیـاتې د څلـوریځې پـه بحـر کښـې نـۀ دي لیکـل شـوې د ګوتـو پـه شـمېر یـو څـو څلـوریځې پـه خپـل بحـر کښـې لیکـل شـوې دي نـورې ټـولې څلـوریځې چـې څـوک یـې وایـي نـو پـه ویلـو کښـې یـې مصـرعې د سـېلابو د زیـاتوب او کمبـوت لـه کبلـه داسـې ټـوپ وخـوري چـې سـړی بیـا ځـان ورسـره را وپېچـي خولې ته لړ زور ورکړي نو د څلوریځې و بحر ته راشي. لکه:

عجــــب فلــــك دی اپوټــــه کارونــــه کـــــا
د ګــــل لـــــه تخمـــــه ښـــــکاره خارونـــــه کــــا
محمـــــدي څــــۀ ووایــــــي دا ځـــــای د فهـــــم دی
پـــــه هــــر ســـاعت کښـــــې څـــــۀ روزګارونـــــه کــــا (23)

"چــــــي شــــــي لــــــه ګلـــــه بلبـــــل جــــدا
تویـــــــــوي اوښــــــکې کـــــــا دا وینـــــــا
چـــــي څـــــۀ شـــــوې ګلـــــه! زمـــــا مینـــــه
راښــــکاره مــــــخ کــــــړه کښـــــلی زیبـــــا (24)

"عشـــق مـــي د يـــار شـــو راتـــه حادثـــه
نـــور مـــي تـــه ولـــي پـــر مـــرګ يـــې باعثـــه
...... ســـــــــــــر ........ حــــــــــادث
.... يـــــــــې ...... مـــــــــرګ باعـــــــث "(25)

د حنـان بـارکزي دغـه رباعي پـه دغـه ديـوان کښې چې د صحاف نشـراتي مؤسسـې لـه خوا چاپ شوی دی. پـه لـړ تـوپير سره ورکړې ده خو د پښتو اکېډمۍ لـه خوا پـه چـاپ شـوي ديـوان کښـې لـومړۍ مصـرعه يـو ډول ليکـل شـوې ده خـو د صـحاف نشـراتي مؤسسـې پـه چـاپ شوي ديـوان کښـې دغـې مصـرعې تـه "قلمـي" ليکـي او بيـا د صـحاف نشـراتي مؤسسـې د ديـوان پـه حاشـيه کښـې هغـه رباعي پـه لـړ تـوپير سـره د چـاپي ديـوان پـه حوالـه ليکـي. خـو زمـونږ لـه موضـوع سـره سـم بيـا هـم هغـه د سـېلاب کمـزوري لـري. کـه پـه لـومړۍ مصـرعه کښـې دغـه کمـزوري لـه منځـه وړل شـوې وي نـو پـه درېيمـه مصـرعه کښې بيا هم يو سېلاب زيات دی لکه:

عشـــق مـــي د يـــار شـــو راتـــه حـــادث
نـــور يـــې تـــه ولـــې پـــر مـــرګ باعـــث
چـــې مـــرم د يـــار غـــم بـــه راســـره يـــو ســـم
څـــۀ بـــه مـــي يوســـي لـــه ارث وارث"(26)

چـــې پـــه خـــاطر کښـــې دا ســـتا هـــوا لـــرم
ژونـــــدون د وصـــــل پـــــه تمنـــــا لـــــرم
طاقـــت مـــي نـــۀ شـــي چـــې طلـــب نـــۀ کـــړم

صـــــورت بــــه ښکلــــکله بـــې تــــا لـــرم

مـــــونږ لــــه هيـــواده تنهــــا راغلــــي يــــو
د بــــڼ طوطيـــــان يـــو پــــه دام وتلـــي يـــو
غمــــازه! ظلـــــم راباتـــــدې بــــس کـــــړه
د ښـــو يــــارانو فـــرق تتلـــي يـــو(27)

د ځنـو شـاعرانو مـي دوې دوې رباعيـانې ځکـه راوړي چـې لوسـتونکي دا ګمـان و نـهٔ کـړي چـې ګونـدې دا يـوه يـوه ربـاعي خامخـا د يـوه يـا دوو سـېلابونو کمـزوري لـري بلکـې د دې مقصـد دا دی چـې بېخـي ډېـر رباعيـات دغسـې د کلاسـيك شـاعرانو پـه ديوانونو کښې ليدل کيږي.

راســــــه د زهيـــــــرو زړونـــــــو دردمنـــــــده
هجـــــران دي وســــــوم د عشـــــق پــــه تنــــده
د وصـــــــال نعــــــره بـــــــه لاکلـــــــه واورم
چـــي پرېشــــان خــــاطر مـــي پـــه ســـي خورســـنده"(28)

اې معلمـــــــــه! څـــــــــهٔ دې مطلـــــــب
يــــــار دې زمـــــا کــــــړ بنـــــد د مکتـــــب
وخـــــــت د بهــــــار دی، چمــــــن ګلـــــزار دی
ارســـــــله معنــــــا يرتــــــــع و يلعـــــــب"(29)

د ځلوريځې دپاره يو مخصوص اوږد رکني بحر دی چې لس سېلابيزې ځلوري مصرعې لري خو په دغه بحر کښې غزلې، نظمونه او نور اصناف هم ليکل شوي دي د نمونې په توګه يې يو څو نظمونه او غزلې راوړم: حمزه شينواري ليکي:

څنګه بورنيږي ستوري اوتر دي
چې څۀ ويلي ورته سحر دي
تور د ديدن دي ورله ښۀ شو
دا ککۍ وې اوس بې نظر دي
په ځان ښودنه د يار غلط شول
څۀ بې خبر دي دا چې خبر دي
لکه سپند يې په ګډېدو کړل
مين مشکوره ستا د نظر دي
څۀ بې خطر دي د دې خطر نه
څوك د اشنا نه چې بې خبر دي
څوك دي په زړۀ کښې څوك په لېمو کښې
پرېشان دننه، حيران بهر دي
اظهار د مينې اشنا ته نۀ کا
څۀ ښۀ هغه دي چې بې هنر دي
يا د وصال دي يا د بهار دي
هغه وختونه چې بې ثمر دي
هغه چې کور دي ښۀ دي په کور دي
څوك چې بينا دي نو کور په سر دي
حمزه چې اوښکې دي پاته نۀ شوې
تراوۀ د عشق له خوني بهر دي

د غني خان نظم:

**د غم لور:**

لنګه تیارهٔ شوه رڼا یې راوړه
آدم چې مست شو حوا یې راوړه
مرګ چې د خپل ژوند تلاش کښې ووت
ژوندون یې راوړ او سا یې راوړه
توري چې چیغه د کفر وکړه
ډال یې پیدا کړ قلا یې راوړه
چې اوښکې سرې شوې شراب ترې جوړ شول
چې غم بابا شو خندا یې راوړه"(30)

بل نظم:

چې مې زړهٔ مست ؤ، دنیا وه مسته
ګلونه مست وو، لیلی وه مسته
چې مې زړهٔ ډوب شو، دنیا بوډۍ شوه
ګلونه مړاوي ،شو لیلی بوډۍ شوه
چې مې زړهٔ مست ؤ، شونډې تودې وې
د زهرو شونډې، به هم خوږې وې
چې مې زړهٔ ډوب شو، شونډې مړې شوې
یخې د واورو، په شان د حورو خلې شوې
چې مې زړهٔ مست ؤ، سترګې مې سرې وې
مدام سپوږمۍ وه، د سپرلي شپې وې
چې مې زړهٔ ډوب شو، سترګې هوښیارې
خزان مې مل شو، په نیمه لارې
خدایږو ژوندون بس، ځواني مستي ده
دا نور ژوندون نهٔ، دی یو کړېده دي

سترگې چې يخې، شي رب دې کړي پټې
چې مستې نهٔ وينې دا څهٔ ليدهٔ دي
او ماښام مې ياره، ورو را روان دی
سبا به چونګ خاورې، وي نن غني خان دی
جانانه! شونډې، ما ته نزدې کړه
چې زړهٔ مې مست شي، دنيا شي مسته
چې بيا سپرلي شي، ګلونه سرهٔ شي
چې ځواني و دانګي، خندا شي مسته"(31)

د غني خان په پورتني نظم کښې که څهٔ هم په ځنو مصرعو کښې په پينځم سپلاب وقف نهٔ راځي يعني په شپږم يا څلورم سپلاب باندې د مصرعې لومړی برخه دريږي خو بيا هم دغه نظم د رباعي په بحر کښې ليکل شوی دی.

**نتيجه**: د څلوريځې دپاره يو مخصوص اوږد رکني بحر چې لس سپلابيزې څلور مصرعې لري. په دغه بحر کښې غزلې، نظمونه او نور اصناف هم ليکل شوي دي. له نظمونو او غزلو پرته ځنې سندرې هم شته چې د رباعي په بحر کښې ليکل شوې دي. خو د رباعي دغه بحر له شلمې پيړۍ را په دې خوا په سندرو کښې راوړل شوی دی. خو په خصوصي توګه دا د پښتو کلاسيك شاعرانو تر څلوريځې پورې محدود ساتلی دی. خو د پښتو د اکثرو شاعرانو ځنې څلوريځې د لس سپلابيز بحر پر ځای يوولس يا نهه سپلابيز بحر راوړی دی.

❖❖❖

## حوالې

(1) نعمانی، شبلی، مولانا، شعر العجم، حصہ چہارم، حمایت اسلام پریس لاہور، سن اشاعت ندارد، ص243.

(2) نعمانی، شبلی، مولانا، شعر العجم، سن اشاعت ندارد، ص246.

(3) محمد نجم الغنی، مولوی، بحر الفصاحت، مقبول اکیڈمی، لاہور، 1988ء، ص272.

(4) درانی، درویش، پښتو عَروض، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 2004ء، مخ 151، 152.

(5) ایاز، محمود، ببك ټائټل، د هیندارو تر بازاره، ملا ظریف اخوند کاکړ فاؤنډېشن کوټه، 2010ء.

(6) بحر الفصاحت، ص273.

(7) میاخېل بارکوال او زلمی رحمت، د ځراغونو اوښکې مقدمه، لمر خپرندویه ټولنه کوټه، 2010ء، مخ 18.

(8) رفیع، حبیب الله، انګی، (د سیال کاکړ د کتاب مقدمه) پښتو ادبي بورډ کوټه، 1987ء، مخ 18.

(9) خان محمد، حافظ، دیوان حافظ خان محمد، د ملغلرو خزانه، بلوچستان بکډپو کوټه، 1405هـ، مخ 168.

(10) خیام، عمر، د عمر خیام څلوریځې (ژباړه ابوالخیر ځلاند، پښتو اکېډمی کوټه، 1984ء، مخ مخ 127، 128.

(11) خیام، عمر، د عمر خیام څلوریځې (ژباړه ابوالخیر ځلاند، مخ 221، 222.

(12) پتیال، عبدالقدیم، د خیام سرونه د پښتو په تال کښې، (د عبدالباري جهاني د ژباړې مقدمه) نارنج خپرندویه ټولنه کندهار، 1384ل، مخ 10.

(13) جهاني، عبدالباري، د خیام سرونه د پښتو په تال کښې، (د عمر خیام د څلوریځو پښتو منظومه ژباړه) نارنج خپرندویه ټولنه کندهار، 1384ل، مخ 48.

(14) سحر، علم ګل، د وینو په پیاله کښې زړګی، سریزه، مخ 16.

(15) سحر، علم ګل، د وینو په پیاله کښې زړګی، سریزه، مخ 18.

(16) ناصر، بشرمل، د وینو په پیاله کښې زړګی، یونائیټډ پریس کوټه، 2012ء، مخ 107.

(17) ختک، خوشحال خان، د خوشحال خان ختك کلیات، اوډنه د عبدالقیوم مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه پېښور. دویم چاپ، 2008ء، مخ 371.

(18) بنګښ، خواجه محمد، دیوان خواجه محمد بنګښ، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټي پېښور، 1965ء، مخ 143.

(19) بابا، عبدالحمید، در او مرجان، یونیورسټي بك ایجنسي پېښور، 1978ء، مخ 143.

(20) شیدا ، کاظم خان، دیوانِ کاظم خان شیدان، ترتیب او تدوین همېش خلیل، د پښتو ادبي مرکز پاکستان سرائې نورنګ بنون، س ن،مخ 156.

(21) هجري، اشرف خان، د اشرف خان هجري دیوان، تحقیق او سمونه د همېش خلیل، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 2001ء، مخ 376.

(22) مومند ، معز الله، دیوان معز الله خان مهمند ، مسمٰی به آئینه معنٰی نما ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي 1958ء، مخ 109.

(23) صاحبزاده، محمد ، د محمدي صاحبزاده دیوان، ترتیب او مقدمه د قلندر مومند ، پرنټرز پبلشرز بکسېلرز سمال انډسټریز اسټېټ کوهاټ پېښور ، 1985ء، مخ 430.

(24) لتاړ، ملا، د ملا لتاړ دیوان، مقدمه او لمنلیك د عبدالرحیم ځدراڼ، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو ریاست افغانستان، 1367هـ، مخ 251.

(25) بارکزی، حنان، د حنان بارکزئي دیوان، حواشي او تعلیقات د سید خیر محمد عارف، پښتو اکېډمي کوټه،1994ء، مخ344.

(26) حنان، میرزا ، بارکزی، د میرزا حنان بارکزي دیوان، (څلورم چاپ) سریزه او سمونه د معصوم هوتك، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 1388هـ، مخ 206.

(27) کاکړ، پیرمحمد ، د پیر محمد کاکړ دیوان، (دویم چاپ) صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه، 1389هـ، مخ 162، 163.

(28) بابا ، احمد شاه، د لوی احمد شاه بابا دیوان، ترتیب او مقابله د معصوم هوتك، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 1388هـ، مخ 182.

(29) کاکړ، شمس الدین، د شمس الدین کاکړ دیوان، (دویم چاپ) سریزه او لغتنامه د معصوم هوتك، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 1388هـ، مخ 140.

(30) درانی، درویش، پښتو عروض، مخ 153.

(31) غني خان، د غني کلیات، د قومونو او قبایلو وزارت، افغانستان، 1985ء، مخ 632.